بېشكه الله تعالى په هر شي کې احسان (نيکي) فرض کړې ده

ابو يعلى شداد بن اوس رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: "بېشكه الله تعالى په هر شي کې احسان (نيکي) فرض کړې ده، نو که تاسو وژل کوئ، نو په ښه طريقه يې وکړئ، او که تاسو حلاله کوئ، نو په ښه طريقه يې وکړئ، او که ستاسو څخه يو څوک حلاله کوي نو خپله چاړه دې تېره کړي، او څاروی دې راحت کړي".

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله تعالى په ټولو شيانو کې نيکي کول فرض کړي دي، او احسان (نيکي) : په دوامداره توګه د الله تعالى په عبادت، خلکو ته په خبر رسولو او له مخلوقاتو څخه په ضرر لرې کولو کې د الله تعالى څار دی، لدې جملې څخه په وژلو او حلالولو کې له مهربانۍ څخه کار اخيستل دي. په قصاص اخيستلو کې د وژلو پر مهال نيکي کول: داسې چې د مقتول لپاره تر ټولو اسانه، سپکه او چټکه لاره غوره شي. او په ذبح کې د حلالې پر مهال نيکي کول دا دي چې : د چاړې په تېره کولو سره په څاروي شفقت وشي او د څاروي له مخې چاقو تېره نه شي چې هغه ورته ګوري، او دا چې د نورو څاروو د سترګو وړاندې حلال نه شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66521